# ارګ پاڼه

خلورمه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنيو مرکز



صاحب امتياز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د اړیکې شمېره:
+93 (0) 202100633

ايميل:
info@gmic.gov.af

آدرس:
مرمرينه مانۍ، بهرنيو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: جمادي الاول ۲۰، کال ۱۴۴۳ هجري قمري


## اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبة الله اخوندزاده د ګڼ شمېر علماوو سره وکتل

د ليدنې پر مهال لومړی د کندهار ښار او ولسواليو څخه راغليو علماوو خبرې وکړې او خپل نظريات او وړانديزونه يې د ا.ا.ا. د مشرتابه پاتې برخه...پ۶

**امارت اسلامی از روز اول به صادرات کشور توجه خاص داشته و صادرات افغانستان در سه ماه حکومت جدید به ۲۶،۸۳۰ میلیارد افغانی میرسد که نسبت به حکومت قبلی رشد ۱۳۲ در صد را نشان میدهد.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

**اسلامي امارت چمتو دی، چې د افغانستان په تړاو د اسلامي هېوادونو ټولې هغه غوښتنې، اندیښنې او مشورې واورې او ومني چې له اوسني بحرانه د وتلو سمه او عادلانه لاره په نښه کوي.**

محترم امير خان متقي د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو وزارت سرپرست وزير

**موږ نه غواړو د بل چا په داخلي چارو کې مداخله ولرو او نورو ته هم اجازه نه ورکوو، چې زموږ په کورنيو مسائلو کې مداخله ولري.**

محترم ذبيح الله مجاهد د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستيال او د ا.ا.ا. وياندوی

**آلمان ۶۰۰ میلیون یورو را برای پرداخت معاشات معلمین با ا.ا.ا. کمک می کند.**

## رهنمودهای امیرالمؤمنین به والیان در مورد افغان‌های رونده به کشورهای غربی

آنعده افغان‌های که به بهانه مشکلات سیاسی یا اقتصادی تلاش به ترک کشور دارند و برخی‌ها می‌خواهند با اطفال خوردسن و خانم‌ها به کشورهای غربی بروند، که سپس در آن جا به دلایل مختلف با بعضی مسائل امنیتی، اخلاقی و دیگر مشکلات بشری مواجه می‌شوند، مثلا:

- در مسیر و کمپ‌ها با حالات بدی مواجه می‌شوند، که سبب ناراحتی اقارب و هر افغان می‌شود.
- به اساس بعضی برنامه‌های مغرضانه؛ عقائد، اخلاق و ارزش‌های معنوی شان با خطر مواجه می‌شود.
- برای جواز اقامت؛ وادار به تهمت‌زدن علیه اسلام و نظام اسلامی و نیز تهیه اسناد جعلی می‌شوند.
- به‌جای اینکه لیاقت مسلکی بسیاری از آن‌ها برای رفاه و پیشرفت کشور خرچ شود، در آن جا صرف کارهای عادی و حتی کارهای حقیر می‌شود.

بنابراین والیان محترم با همکاری مسئولان ذیربط و علمای کرام با آن‌ها دیدارهای مستقیم داشته باشند، مشکلات شان را بشنوند و برای یافتن راه های‌حل آن‌ها را کمک نمایند.

همچنان تلاش های خود را برای تدابیر بیشتر امنیتی دوام بدهند، تا کسی فرصت ارعاب و ترسانیدن دیگران را نداشته باشد و خصوصا هیچکسی در برابر خدمات و فعالیت های تاجران، کسبه کاران، و متخصصین موانع ایجاد نتواند.

والسلام

مقام رهبری امارت اسلامی افغانستان

**له تاسو مو دا هيله ده چې، د خپل اسلامي نظام ترڅنګ ودريږئ، د هېواد او اسلام دښمنانو ته دا موقع مه ورکوئ چې په خپلو منفي تبليغاتو مو اغيزمن کړي.**

محترم ملا محمد حسن اخوند د ا.ا.ا. رئيس الوزراء

## د اسلامي امارت د کابينې غونډه دائره شوه



د افغانستان اسلامي امارت د کابينې غونډه د رئيس الوزراء ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ دائره شوه.
په پيل کې د قران کريم څو مبارک ايتونه تلاوت شول، وروسته رئيس الوزراء څو ابتدائي خبرې وکړې او بيا د اجنډا له مخې په ټاکل شوو موضوعاتو بحثونه او پريکړې وشوې.
د تشکيلاتو د سمون په برخه کې د افغان تور، مطابعو ادارې، د سيستم سازي يا ډيجيټل حکومتدارۍ ادارې او د امتحاناتو د ملي ادارې په اړه د تشکيلاتو د بيا کتنې د هيئت نظر د کابينې لخوا تائيد شو.
په نيمروز کې له ايران سره په پوله د مشترک بازار د جوړولو موضوع د ماليې، تجارت، اقتصاد او سرحداتو او قبائلو وزارتونو ګډ هيئت ته وسپارل شوه تر څو يې په ټولو اړخونو غور وکړي او د څېړنې نتيجه د کابينې غونډې ته وړاندې کړي.
دا چې د اريانا افغان هوايي شرکت پاتې برخه پ۶...

**ما از اعلامیهٔ مشترک ۲۱ سازمان اسلامی جهان مبنی بر کمک و همدردی با ملت و حکومت افغانستان استقبال می‌کنیم و این اعلامیه مثال زنده و گامی خوب در راستای اخوت اسلامی است.**

وزارت امور خارجه ا.ا.ا.

**زه به هيڅ کله هم داسې کار ونکړم چې افغانانو ته پيغور پاتې شي.**

د اسلام خادم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد (رح) له وينا وڅخه

## اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبة الله اخوندزاده د کندهار د ټولو ادارو له رئيسانو سره وکتل

د کندهار ولايت مقام د غونډو په تالار کې اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبة الله اخوندزاده د کندهار د ټولو رياستونو او ادارو له رئيسانو سره وکتل، چې پرمهال يې د حج او اقافو وزير شيخ مولوي نور محمد ثاقب، د کندهار والي حاجي محمد يوسف وفا او يوشمېر نورو مسئولينو هم حضور درلود.
غونډه، چې د قران کريم د څو مبارکو اياتونو په تلاوت سره پيل شوه، په سر کې پاتې برخه...پ۲

**د بيت‌المال ساتنه په سم ډول وکړئ.**

اميرالمؤمنين شيخ مولوي هبة الله اخوندزاده

*ا. ا. ا تلاش می کند تا برای محصولات داخلی بر علاوه در داخل کشور، در بیرون از کشور بازاریابی نماید و از تمام هموطنان می خواهم به جای تولیدات خارجی از تولیدات داخلی خود استفاده نمایند.*

محترم الحاج ملا عبدالغنی برادر معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

**هر چاچې د شهيدانو د وينو او ولس د قربانيو خيال وساتلو، هغوی بيا کامياب دي او هر چا چې خيانت وکړ، هغوی د ذلت سره مخ کيږي او هيڅکله کاميابي نه ګوري.**

محترم مولوي محمد يعقوب مجاهد د ا.ا.ا. د دفاع وزارت سرپرست وزير

## شاروالی کابل از اعمار ساختمان های خود سر و بدون مجوز جلوگیری می کند.

**در چند سال اخیر ساخت و ساز های خود سر و خلاف قانون در شهر کابل؛ نظام شهری را برهم زده و باعث ایجاد مشکلات فراوان اجتماعی گردیده است.**

# نړۍ دې د افغانستان له نوي حکومت سره تعامل وکړي

د هېواد له ورځپاڼې

د افغان سولې لپاره د امریکا مخکنی ځانګړي استازي زلمی خلیلزاد په تازه څرګندونو کې خبرداری ورکړی، چې که نړۍ له نوي حکومت سره تعامل ونه کړي، نو تر ټولو ستره بیه به پرې کړي.
خلیلزاد په مرکه کې ټینګار کړی، چې که چېرې افغانستان یو ځل بیا سقوط وکړي، نو مسئولیت به یې د هغو پر غاړه وي، چې له اسلامي امارت سره تعامل ته غاړه نه ږدي.
خلیلزاد په افغانستان کې بشري وضعیت اندېښمنوونکی بللی او ټینګار یې کړی، چې له اړمنو افغانانو سره د مرستې یوازینۍ لاره د افغانستان له اسلامي امارت سره تعامل دی. #



# مسدود کردن دارایی های افغانستان نقض حقوق بشر است

سازمان همکاری اسلامی مرجع معتبر در میان کشور های اسلامی است، این سازمان می تواند بحران موجود در افغانستان را به سمت مثبت تغییر مسیر دهد و فرصت های تازه را به میان آورد.
نشست وزیران خارجه کنفرانس کشور های اسلامی که در اسلام آباد برگزار شد با تعهدات مشخص برای حل بحران موجود در افغانستان پایان یافت.
شرکت کننده گان این نشست بر ایجاد صندوق وجهی جلب کمک های بشردوستانه برای افغانستان، رفع تحریم ها و تسهیل دسترسی افغانستان به ذخایر منجمد شده، تعهد کردند.
اقدامات سازمان همکاری اسلامی در قبال افغانستان با توجه به بحران اقتصادی و گسترش دامنه فقر و گرسنگی، درخور تمجید و ستایش است.
بسته های کمکی که در این اواخر از سوی سازمان ملل در اختیار افغانستان قرار گرفت و این که شماری از کشور های جهان همه روزه کمک هایی را در اختیار افغانستان قرار میدهند، چنان که تغییر در نگرش جهانیان نسبت به افغانستان به میان آمده، جهانیان کلید مبارزه با بحران در افغانستان را دریافته اند و حل بحران ساده تر شده است.
مردم افغانستان از جهانیان به خصوص اعضاء کنفرانس کشور های اسلامی توقع دارند که به امریکا تفهیم کنند که به حقوق و دارایی های ملی افغانان احترام بگذارند.
در مجموع، جهانیان باید بر امریکا و نهاد های پیرو آن فشار بیاورند تا تحریم توجیه ناپذیر شان را در برابر مردم افغانستان پایان بخشند و بگذارند افغانها که چهار دهه در آتش جنگ و رقابت های قدرت های بزرگ سوخته اند، به آرامش و رفاه دست یابند. #

از روزنامه انیس

**دا د خدای (ج) په نصرت د ایمان لرونکو عقیده وه چې بیا به پګړۍ وال حکومت کوي. راسخې عقیدې ته یې نړۍ حیرانه ده.**

د ریاسة الوزراء مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر

## د کابینې غونډه:

**د شهیدانو او معلولینو وزارت دې د خپل پلان سره سم د شهیدانو کورنیو ته د هر یتیم پر سر ۲ زره افغانۍ، هر فلج ته ۱۵ زره افغانۍ او هر د دوو اندامونو معلول ته ۱۰ زره افغانۍ د کومک په حیث ورکړي.**

**قطر په افغانستان کې د لمریزې برېښنا د تولید په برخه کې پانګونې لپاره چمتوالی ښودلی.**

د اوبو او برېښنا وزارت

**موږ ټولې نړۍ او په خاص ډول اسلامي هېوادونو ته ډاډ ورکوو چې د افغانستان خاوره به د چا پرضد نه کارول کیږي او د مخدره موادو د کښت او قاچاق پر وړاندې به په ګډه مبارزه کوو.**

محترم امیر خان متقي د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت سرپرست وزیر

# د اسلامي همکاریو سازمان له لوري د افغانستان وجهي صندوق جوړول

د اسلامي همکاریو سازمان له اسلامي پراختیا بانک څخه غوښتنه کړې چې دا وجهي صندوق د افغانستان له خلکو سره د بشردوستانه مرستو چټکتیا په موخه د ۲۰۲۲ میلادي کال د لومړۍ څلورو میاشتو پورې فعال کړي.
د اسلامي همکاریو سازمان په پرېکړه لیک کې راغلي: غړي هېوادونه پرېکړه کوي چې د اسلامي پراختیا بانک په ملاتړ یو بشردوستانه وجهي صندوق جوړ کړي، څو افغانستان ته د بشردوستانه مرستو د لېږد په برخه کې له نورو نړیوالو سازمانونو سره یو ځای د یوه کانال په توګه ترې ګټه واخیستل شي.
د دې غونډې ګډونوالو همداراز ویلي چې اقتصادي پاشل کېدل د ډېرو افغانانو د کډوالۍ او د ترهګرۍ کړنو د ډېرېدو سبب کیږي چې دا به د سیمې لپاره ناوړه پایلې ولري. دوی له نړیوالې ټولنې غوښتنه کړې چې له افغانستان سره بېړنۍ بشردوستانه مرستې وکړي.
دې سازمان همداراز له انساني ناورین څخه د مخنیوي لپاره د افغانستان کنګل شویو پیسو د ازادولو په برخه کې د ګامونو پورته کېدو غوښتنه هم کړې ده. #

**راتلونکي کال کې به ډېر افغانان له ګاونډیو هېوادونو راستانه شي او له نړیوالو بنسټونو غواړو چې د راستنېدونکو ستونزو ته د رسېدنې په چاره کې له ا.ا.ا. سره همکاري وکړي.**

محترم ذبیح الله مجاهد د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

# اسلامي هېوادونه دې د افغانستان لاسنیوی وکړي

د اسلامي نړۍ د علماوو شاوخوا ۲۱ ټولنو له افغانستان سره د مرستو غوښتنه کړې ده. دغو ټولنو په ګډه اعلامیه کې ویلي: اسلامي هېوادونه دې د افغانستان لاسنیوي وکړي. دوی زیاته کړې، افغانان په دې سختو شرایطو کې پراخو بشري مرستو ته اړتیا لري او د دغه هېواد اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې ترینګلې کیږي، نو له همدې امله د اسلامي هېوادونو هر وګړی، سیاستوال او مرستندوی بنسټ ته په کار ده، چې له افغانستان سره تر خپلې وسې مرسته وکړي.

د هېواد له ورځپاڼې

**د هېواد له ټولو دولتي او غیر دولتي رسنیو غوښتنه کوو کوم خبریالان چې د ژورنالیزم له نوم نه په استفاده د موجوده نظام په خلاف منفي تبلیغات کوي دفعالیت دپاره هیڅ ځای او اجازه ور نکړي ترڅو جامعه له بې موردو او پوچو تبلیغاتو نه په امن کې پاتې شي او د ژورنالیزم حیثیت ته زیان وا نه وړي.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

پاتې برخه...

## امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده...

د حج او اقافو وزیر شیخ مولوي نور محمد ثاقب لومړی د غونډې ټولو ګډونوالو ته د ا.ا.ا. په راتګ او بریا سره مبارکي ورکړه او وروسته یې په خپلو خبرو کې وویل، ټول افغانان باید د خدای (ج) شکر اداء کړي؛ ځکه افغانستان د کفارو له اشغال څخه خلاص کړل شو او اوس ټول افغانان په امن او عزت کې ژوند کوي.
وروسته امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده ارزښتناکې خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې د ټولو ریاستونو او ادارو رئیسانو ته په بېلابېلو برخو کې سپارښتنې هم وکړې.
امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده وویل، دا د خدای (ج) لوی نعمت دئ، چې فتح راغله او خدای (ج) له جګړو خلاص کړو، چې په خبره یې اوس په ټول افغانستان کې شپه او ورځ په بشپړه توګه امنیت ډاډمن دئ او ټول افغانان په خوښۍ کې ژوند تېروي.
امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده زیاته کړه ا.ا.ا. داسې جوړ دئ، چې ټول لوړ رتبه او ټیټ رتبه مسئولین او مامورین یې د همدې هېواد او خاورې دي، ټول دلته په دې خاوره کې اوسیږي او په بشپړه توګه اسلام، هېواد او ولس ته ژمن دي.
امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده د خپلو خبرو په وروستیو کې رئیسانو ته لاندې سپارښتنې وکړې:
۱ـ عاجزي وکړئ، ځانونه په بشپړه توګه کنټرول کړئ، د ولس سره لاره خپله کړئ.
۲ـ ټولې نظامي ادارې باید خپل مجاهدین په ښو اخلاقو سمبال کړي او باید له ولس سره ښه سلوک وکړي.
۳ـ ټول رئیسان باید له علماوو سره هر وخت ناستې وکړي او د کارونو د پرمختګ په برخه کې ورڅخه مشورې واخلي.
۴ـ اسلام، هیواد او ولس ته د کار کولو لپاره اوس پوره زمینه برابره ده او په ټول توان هڅه وکړئ، ترڅو خدمت په ښه ډول وکړئ.
۵ـ په خپلو منځونو کې پوره همغږي ولرئ او په ګډه ستونزې له منځه یوسئ.
۶ـ له امنیتي ارګانونو سره د امنیت د خوندیتوب په برخه کې پوره همکاري وکړئ او د عامو وګړو ترڅنګ تاسې ټول هم امنیتي اصول مراعاتوئ.
۷ـ خلګ له بدو کارونو څخه راګرځوئ او ښو کارونو ته یې رابولئ.
۸ـ ټول اتفاق ولرئ، د اسلام، هېواد، ولس او نظام د پرمختګ لپاره په ګډه د ورورګلوۍ په فضاء کې کارونه مخته یوسئ.
۹ـ د بیت‌المال ساتنه په سم ډول وکړئ.
۱۰ـ په ادارو کې د ټاکنو په تړاو خپلوي مه کوئ، هغه کسان په کار ګمارئ، چې وړ یې وي، تقوا او پرهیزګاري ولري.
۱۱ـ د آمر د امر اطاعت کوئ.
۱۲ـ د هیچا څخه تحفې مه اخلئ.
۱۳ـ په هره برخه کې نظرونه راکوئ، ستاسو نظرونو ته هر وخت رسیده‌ګي کیږي.
۱۴ـ د ولس څخه ځانونه مه پټوئ؛ بلکې هر وخت ورسره مجلسونه کوئ.
۱۵ـ کوښښ وکړئ، دې شرعي نظام ته په سم ډول کار وکړئ. #

## انتقال جلغوزه به کشور چین؛ فی کیلو با ۵۰ سنت تخفیف

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون رئیس الوزراء ا.ا.ا. در دیدار با مسئولین اتاق های تجارت و سرمایه گذاری افغانستان، شرکت هوایی کام ایر و شماری از تاجران کشور، موافقت نمود با تخفیف ۵۰ سنت، فی کیلو جلغوزه را به ارزش ۴ دالر به کشور چین انتقال دهد.
قابل یادمانی است، قبلا فی کیلو جلغوزه به ارزش ۴.۵ دالر به چین صادر می گردید. #

## په پسرلي کې به د ازبکستان - افغانستان او پاکستان د ریل پټلۍ پروژې کار پیل شي

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي امیرخان متقي د ازبکستان د ټرانسپورټ وزیر الهام محکموف په مشري پلاوي سره لیدنه وکړه، ناسته کې په دوه اړخیزو مسایلو ګټور بحثونه تر سره شول، ازبکستاني پلاوي په پسرلي کې د ازبکستان -افغانستان او پاکستان د ریل پټلۍ د کارونو د شروع په اړه د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر ته ډاډ ورکړ او ویې ویل چې ازبکستان کې به افغانانو ته دریل د پټلۍ اړوند روزنه ورکړل شي.
ازبکستاني پلاوي له خپله اړخه افغانستان سره د هر راز مرستي ژمنه وکړه، پلاوي د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ته د ازبکستان د لیدو بلنه هم ورکړه، ښاغلي امیرخان متقي د پلاوي غوښتنه ومنله او د دوه اړخیزو موضوعاتو په اړه یې ازبکستاني پلاوي ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. #

**پاکستان افغان محصلینو ته د ۱۱۰ تحصیلي بورسونو د ورکړې ژمنه وکړه.**


د لوړو زده کړو وزارت

## د اسلامي امارت له راتګ سره شریعت او عدالت نافذ شوی

د ا.ا.ا ریاست الوزراء سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د لویې پکتیا له یو شمېر قومي مشرانو سره په کتنه کې وویل، امارت د ټولو افغانانو ګډ کور دی او له هغوی یې وغوښتل چې د اسلامي امارت او ولس تر منځ د پل په حیث رول ولوبوي.
یادو قومي مشرانو د اسلامي امارت پر حاکمیت، امنیت او د امنیتي مسؤلینو له کړنو خوښي څرګنده کړه او وې ویل، د اسلامي امارت له راتګ سره شریعت او عدالت نافذ شوی نو پر موږ لازمه ده چې له اسلامي امارت څخه ملاتړ وکړو. #

## شرکت های روسی علاقه مند سرمایه گذاری در بخش انرژی افغانستان استند

رنات بورانوکوف اتشه تجارتی و اقتصادی سفارت روسیه در کابل در دیدار با مسئولین وزارت آب و انرژی، برای سرمایه گذاری در بخش تطبیق پروژه های تولید انرژی در افغانستان علاقه مندی شرکت های روسی را ابراز کرد.



اتشه تجارتی و اقتصادی سفارت روسیه در کابل گفت که شرکت های روسی علاقه مند سرمایه گذاری در بخش تطبیق پروژه های تولید انرژی در افغانستان استند. در همین حال مسئولان وزارت آب و انرژی جلب سرمایه گذاری در تولید انرژی را از اولویت های کاری این وزارت خوانده و از این اقدام سفارت روسیه استقبال کردند. #

**جاپان له افغانستان سره د ۱۰۰ میلیونه ډالرو په ارزښت بشري مرستې کوي.**

**ما از اقدام ۴۸ عضو ایالات متحده سپاس‌گزاری می‌کنیم که به تعقیب نامۀ سرگشادۀ ما به کانگرس، به رئیس جمهور جو بایدن توصیه کرده اند تا تحریم‌های وضع‌شده بالای افغانستان برداشته شده و ذخایر ارزی بانک مرکزی از حالت انجماد بیرون شود.**

وزارت امور خارجه ا.ا.ا.

## امارت اسلامی به کار مشترک با موسسات بین المللی متعهد است

محترم مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء با لیو دیپنی نماینده سازمان صحی جهان برای افغانستان دیدار نمود. نماینده سازمان صحی جهان گفت که بخاطر ادامه پروژه صحتمندی در افغانستان تا پایان سال جاری ٦٠ میلیون دالر و تا نیمه سال آینده، ۱۰۰ میلیون دالر منابع را فراهم کرده است.
لیو دیپنی افزود که اکنون از طریق تطبیق پروژه صحتمندی، ۲۳۳۱ کلینیک و شفاخانه زیر پوشش قرار دارد، این برنامه در سراسر افغانستان تطبیق می گردد و پروسه تادیه معاشات پرسونل صحی نیز آغاز شده است.
معاون سیاسی ریاست الوزراء از سازمان ملل متحد و ادارات مربوطۀ آن بخاطر فراهم نمودن امکانات مالی از طریق پروگرام صحتمندی، تشکر کرد و گفت: در بخش های صحی، غذا، آب آشامیدنی و تطبیق واکسین پولیو، کار و فعالیت های شما قابل قدر است و ما به تامین امنیت تان، کاملاً متعهد می باشیم. #

## کانادا، ٦۵ میلیون دالر با مردم افغانستان کمک میکند

کانادا اعلام کرده که ٦۵ میلیون دالر کمک های اضطراری بشردوستانه را به افغانستان می فرستد. این پول توسط صلیب سرخ برای تامین معیشت و کمک های اضطراری به مصرف خواهد رسید.
وزیر توسعه اقتصادی کانادا گفته که کشورش هر راه ممکن را برای کمک به مردم افغانستان در نظر خواهد گرفت.
بلال کریمی معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان می گوید: در شرایط فعلی که افغان ها از یک جنگ تحمیلی و طولانی بیرون شده اند، نیاز است تا تمام کشورهای جهان، سازمان ملل متحد، سازمان های کمک کننده و دیگر نهادهای بشردوستانه به افغانان کمک کنند.
افزون بر کمک ٦۵ میلیون دالری، تعداد از موسسات غیر دولتی از پارلمان کانادا خواستار گسترش کمک ها به افغانستان شده اند. #

از روزنامه انیس

**افغانستان اوس مهال د امنیت له اړخه خورا خوندي هېواد دی، موږ هیله مند یو چې منطقوي پروژو کار زر پیل شي او د نړیوالو په مرسته نیمګړې پروژې بشپړې شي.**

محترم امیر خان متقي د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت سرپرست وزیر


**ادامه تحریم‌ها علیه افغانستان حمایت از حقوق بشر نیست بلکه مجازات عامه مردم است. توجه همه از جمله مدافعان حقوق بشر را به این موضوع جلب می کنم.**

محترم محمد سهیل شاهین، سفیر و نماینده دائمی امارت اسلامی افغانستان در سازمان ملل

## د کابینې غونډه:

**لرې پرتو سیمو ته د ژمنیو مرستو د رسولو او د حرفوي سوالګرو د ستونزې د حل په موخه د شهداء او معلولینو وزارت، د مهاجرینو وزارت، د افغاني سرې میاشتې ټولنې او د پیښو په وړاندې د مبارزې وزارت ګډ هیئت وټاکل شو، تر څو یې په اړه اقدامات وکړي.**

## "شرایط برای سرمایه گذاری در افغانستان مساعد گردیده است"




محترم ملا عبدالغنی برادر معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا. با هیئت از سرمایه‌گذاران و تجاران کشور ترکیه، دیدار کرد.
در این دیدار، هیئت ترکی پیرامون آغاز مجدد پروژه‌های بزرگِ زیربنایی، استخراج معادن و سرمایه گذاری در افغانستان اعلام آماده گی نمودند.
معاون ریاست الوزراء از تلاش‌های کشور ترکیه قدردانی نموده اطمینان داد که ا.ا.ا. تسهیلات و فرصت های بهتر تحقق پروژه های انکشافی و اقتصادی آن کشور در افغانستان را فراهم خواهد کرد.
محترم ملا عبدالغنی برادر افزود: "اکنون شرایط برای سرمایه گذاری در افغانستان مساعده گردیده و جهانیان می‌توانند در عرصه های مختلف در این کشور سرمایه گذاری نمایند." #

## بند برق کجکی هلمند در آستانه بهره برداری



**بند کجکی در ولسوالی کجکی ولایت هلمند در سال ۱۳۳۲ هجری شمسی به منظور کنترول سیلاب‌ها، آبیاری زمین‌های زراعتی و تولید انرژی برق تهداب‌گذاری شد.**
**کار ساخت این بند در دو فاز روی دست گرفته شد؛ چنانچه، فاز اول آن در سال ۱۳۵۴ هجری شمسی با نصب توربین‌های شماره یک و سوم با ظرفیت تولید ۵۱ میگاوات برق به پایان رسید و قرار است با تکمیل فاز دوم ظرفیت تولید برق به ۱۵۱ میگاوات و ظرفیت ذخیره آب این بند به ۲ میلیارد متر مکعب برسد.**
**به اساس مطالعات وزارت آب و انرژی، بند کجکی یک‌ونیم برابر بند سلما در ولایت هرات آب ذخیره کرده می‌تواند و هم‌چنان دو برابر این بند برق تولید خواهد کرد. #**

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | خلورمه ګڼه | د چاپ نېټه: جمادي الاول ۲۰، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز



ارګ پاڼه

**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکې شمېره:** 202100633 (0) 93+
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه مانۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

# بین المللي ټولنه دې په افغانستان کې د بشري حقونو په هکله هیڅ اندېښنه نه کوي

د ا.ا.ا د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر په سیاسي او د سولې جوړولو په چارو کې د ملګرو ملتونو سرمنشي مرستیالې روزمري دیکارلو سره په کتنه کې وویل، د افغانستان اسلامي امارت د حکومتولۍ په مختلفو برخو کې لازم شفافیت رامنځته کړی او په ټول هېواد کې امنیت تامین دی.

محترم مولوي عبدالکبیر له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې د ملګرو ملتونو همکاري وستایله او زیاته یې کړه، بین المللي ټولنه دې په افغانستان کې د بشري حقونو په هکله هیڅ اندېښنه نه کوي او باید له اسلامي امارت سره لازمه همکاري وکړي. #

> ما از جامعه بین المللی می خواهیم تا در زمینه تکمیل نمودن پروژه های نیمه تمام، امارت اسلامی را یاری رساند تا بر علاوه کاریابی، از فرار استعدادهای جوان جلوگیری صورت گیرد.
>
> **محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.**

# د ترکیې د مستقلو تاجرانو او صنعتکارانو انجمن د افغانستان ابادۍ ته لیواله ده

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د ترکیې د مستقلو تاجرانو او صنعتکارانو انجمن پلاوي (MUSIAD) سره په کتنه کې هغوئ ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په افغانستان کې د یاد انجمن د فعالیتونو لپاره لازمې اسانتیاوې برابروي او ټولې ننګونې او موانع لیرې کوي.

د MUSIAD پلاوي د افغانستان د ابادۍ او بیارغونې لپاره لېوالتیا وښوده او د دواړو هېوادونو ترمنځ د مستقیمې اقتصادي اړیکو د ټینګښت لپاره د انجمن د نمایندګۍ غوښتنه وکړه.


MUSIAD د انرژۍ، کانونو، کرنې او روغتیا په ګډون په ۱۷ برخو کې فعالیت لري او د ۱۱ زره غړو او ۲۷میلیارد ډالره صادراتو په لرلو سره په ۹۵ هېوادونو کې نمایندګۍ لري. #

# اولویت امارت اسلامی: توسعه روابط بشردوستانه، اقتصادی، تجاری و سیاسی با کشور های منطقه و جهان

در حاشیه نشست سازمان همکاری اسلامی در مورد افغانستان، محترم امیر خان متقی سرپرست وزارت خارجه ا.ا.ا. با وزیران خارجه و نماینده گان ارشد کشور های عربستان سعودی، ایران، پاکستان، اندونیزیا، ترکیه، آلمان و همچنان نماینده گان ویژهٔ امریکا و سازمان همکاری اسلامی برای افغانستان و نماینده سرمنشی ملل متحد دیدار کرد.

در این دیدار ها، سرپرست وزارت خارجه ا.ا.ا. بر توسعه روابط بشردوستانه، اقتصادی، تجاری و سیاسی، رسیدگی به بحران اقتصادی و بشری در افغانستان، جلب کمک ها در عرصه های انکشافی، اقتصادی و تعلیمی، سرمایه گذاری و تداوم کار پروژه های زیربنایی تاکید ورزید و بالمقابل، وزرای خارجه و نماینده گان ارشد کشور ها و سازمان های متذکره در خصوص موارد یاد شده ابراز علاقه مندی کردند. #

> **کمک‌های بشردوستانه به تنهایی نمی‌تواند مشکلات مردم افغانستان را حل کند. اگر کشورهای منطقه و جهان خواهان خروج افغان‌ها از این مشکلات هستند، باید علاوه بر آزادسازی پول‌های مسدود شده تطبیق پروژه‌های بزرگ اقتصادی را نیز روی دست گیرند.**
>
> **محترم الحاج ملا عبدالغنی برادر معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.**



# از کمک کشورها، نهادها و اشخاص به افغانستان، استقبال می کنیم

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان با الکساندر متیو رئیس منطقوی کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ برای آسیا، دیدار نمود. در این دیدار محترم مولوی عبدالسلام حنفی گفت که از کمک تمام کشورها، نهادها و اشخاص به افغانستان، استقبال می کنیم.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی افزود: بعد از تامین امنیت، اکنون افغان ها در بخش های صحت، معارف، مواد غذایی، انکشاف، تداوی معتادین و جلوگیری از مواد مخدر و سایر عرصه ها، به کمک های بین المللی نیاز دارند و امارت اسلامی تمام شرایط لازم را بخاطر انجام آن، فراهم کرده است. #

پاتې برخه...

## امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده...

حضور ته وړاندې کړل.

ورپسې د ا.ا.ا. زعیم امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده د غونډې ګډونوالو ته لومړی د سترو فتوحاتو مبارکي وویله او زیاته یې کړه چې په همغږۍ او اتفاق سره د خلګو خدمت وکړئ او خپل منځي اختلافات له منځه یوسئ.

د ا.ا.ا. زعیم امیرالمؤمنین شیخ مولوي هبة الله اخوندزاده د علماوو د ستونزو د حل ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې ا.ا.ا. د ښې حکومتوالۍ په برخه کې د علماوو مشورو ته اړتیا لري. غونډه د دعاء په لوستلو سره پایته ورسیده. #

# د ریاسة الوزراء مرستیال د هېواد له ملي تاجرانو سره وکتل

په دغه ناسته کې د ګاز او تېلو، د T.T د نورم او ستندرد او په ځانګړي ډول د هېواد په تجارتي بندرونو کې د ستونزو په اړه بحث او خبرې وشوې. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم مولوی عبدالسلام حنفي د ملي سوداګرو د ستونزو پر حل او دوه اړخیزو همکاریو ټینګار وکړ. #

> **په ملګرو ملتونو کې د افغانستان اوسنی استازی د ولس استازی نه دی. دا څوکۍ د افغانستان د حکومت او ولس حق دی، حق باید حقدار ته وسپارل شي.**
>
> **محترم احمد الله وثیق**
> **د ا.ا.ا. مرستیال ویندوی**

پاتې برخه...

## د کابینې غونډه...

ځینې برخې د ترانسپورت او هوانوردۍ وزارت مربوط او ځینې د مالیې وزارت اړوند دي، د دې ستونزې د حل په اړه د محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د تشکیلاتو د بیاکتنې هیئت غور او پریکړه وکړي.

کابینې پریکړه وکړه چې د شهیدانو او معلولینو وزارت دې د خپل پلان سره سم د شهیدانو کورنیو ته د هر یتیم پر سر ۲ زره افغانۍ، هر فلج ته ۱۵ زره افغانۍ او هر د دوو اندامونو معلول ته ۱۰ زره افغانۍ د کومک په حیث ورکړي.

لرې پرتو سیمو ته د ژمنیو مرستو د رسولو او د حرفوي سوالګرو د ستونزې د حل په موخه د شهداء او معلولینو وزارت، د مهاجرینو وزارت، د افغاني سرې میاشتې ټولنې او د پیښو په وړاندې د مبارزې وزارت ګډ هیئت وټاکل شو، تر څو یې په اړه اقدامات وکړي.

د غونډې په پای کې د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر لخوا په اسلام اباد کې د اسلامي همکاریو سازمان د غونډې او د بیلابیلو هېوادونو له استازو سره د اسلامي امارت د پلاوي د لیدنو په اړه ګزارش وړاندې شو. غونډه په دعاء سره پای ته ورسیده. #

# د دې ګڼې انځور



د خوست جامع جومات د یاد ولایت یو له لویو او تاریخي جوماتونو څخه دی چې په یو وخت کې د لس زره لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

دا دوه پوړی جومات د خوست په ښار کې موقعیت لري چې د بنسټ ډبر یې د اسلامي امارت د تېرې واکمنۍ پر مهال د ستر مجاهد مولوي جلال الدین حقاني په لاس ایښودل شوې ده.

> **اوسني حکومت کې د هر قوم، سمت او مذهب خلک ځان ویني او ژمن یو چې د لا پراختیا لپاره به یې د هر قوم او مذهب متخصصینو ته د کارکولو ښه زمینه برابره کړو.**
>
> **محترم امیر خان متقي د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو وزارت سرپرست وزیر**